# A Critical Analysis of Edited Texts of Kamgar Khan's Devan in Light of Established Principals of Textual Criticism

Abdullah Jan Abid

**Abstract**: Study of Textual criticism of Pashto classical texts have gained velocity in recent years. Kamgar Khan is a classical poet of golden period in Pashto. His devan has edited by different scholars over an extended period of time and has been published many times from Peshawar and Kabul. This article is a textual critique of all the edited versions of devan. Following the established principals of textual criticism these editions of devan have been closely studied, critiqued and compared. A few pitfalls have been pointed out in the paper. This study would be interesting for future researcher as well as textual critics and editors of Pashto.

**Keywords**: Kamgar Khan, Textual Criticism, Shari Aqaid

د کامګار خټک درې غزلې په اول ځل د پادري هیوز په تالیف ``کلیدِ افغاني" کښې راغلي دي- چې په اول ځل په ۱۸۷۲ء کښې په لاهور کښې او په دوېم ځل په ۱۳۵۶هـ ش/۱۹۷۷ء کښې په کابل کښې چاپ شوې دې، خو د کامګار خټک دیوان په اول ځل په ۱۹۵۱ء کښې د سید تسنیم الحق کاکاخېل په تدوین د مکتبه سرحد او په دوېم ځل په ۱۳۵۸هـ ش/۱۹۷۹ء کښې د عبدالمتین متین په تدوین د افغانستان د علومو اکاډمۍ له خوا خپور شوې دې - بیا د کامګار ورومبے چاپ شوے دیوان په دوېم ځل یونیورسټي بک ایجنسي شائع کړے دے، چې د چاپ کال نۀ لري او په درېم ځل په ۱۹۹۵ء کښې پښتو اکېډمۍ، پېښور یونیورسټۍ د چاپ په کالو ښائسته کړے دے - په کال ۲۰۰۵ء کښې د کامګار خان خټک کلیات د میا وکیل شاه فقیرخېل په زیار دانش خپرندویه ټولنې خپور کړے دے - په دې مقاله کښې به وړاندې د کامګار خټک د دیوان/کلیات دغه چاپي متون ، د متن د څېړنې د اصولو او موازینو په رڼا کښې سنجولے شي او نتیجې به ترې استخراجولے شي -

## 1 دیوانِ کامګار خان خټک مقدمه و شرح د تسنیم الحق کاکاخېل

د کامګار خټک د دیوان دا ورومبے چاپي متن د واحدې نسخې له مخې ترتیب شوے دے چې نیمګړې هم ده- د دې دیوان مقدمه په ۳۳ مخونو (دالف نه تر ج مخه پورې) او متن ئې په

۲۰۸ مخونو (د ۱ نه تر ۲۰۸ مخه پورې) خور دے- په دغه مقدمه کښې د پښتو د کلاسيکي ادب په بېلو بېلو دورونو، پښتو عروضو او د کامګار په ژوند او فن په اړه ډېر علمي او تحقيقي بحثونه شوي دي - دغه مقدمه يو ځانګړے اسلوب، په زړۀ پورې عالمانه انداز او يو خاص ادبي Taste لري، چې د مدون په علمي او ادبي صلاحيتونو دلالت کوي -

وروستو له دې چې د متن کوم تشريحات راغلي دي، په هغو کښې د علم و ادب د دنيا يو داسې وسيع او بسيط جهان اباد دے، چې د حدونو له تعين څخه بې نيازه دے - په دغو تشريحاتو کښې د کامګار د کلام باريک نکات په داسې رنګ او انداز سپړلے شوي دي چې د ذوق او نظر د خاوندانو تنده پرې ماتېږي - د دغو تشريحاتو ژبه دومره اسانه، روانه او شېرينه ده، چې هر څوک پرې پوهېږي او خوند ترې اخلي ـ انداز ئې دومره زړۀ راښکونکے دے چې هر زړۀ ځان پله راکاږي- د دغو دومره بې پناه خوبيو په عواملو کښې يو عامل شايد چې د کامګار خټک سره د مدون هغه اخلاص او مينه وي د کومې اظهار چې هغوي په مقدمه کښې کړےدے -

لکه څرنګه چې د بحث ابتدا کښې وئيلے شوي دي، چې د دې متن نسخه واحده هم ده او نيمګړې هم، نو په داسې حالت کښې د متن د ته ئې ستونزې نورې هم سېوا شي- خو د دغو ستونزو باوجود هم مدون د متن په ترتيب کښې ښۀ خواري کړې ده- تر دې چې د کامګار د ژوند د حالاتو کومه خاکه چې هغوي ترتيب کړې ده هغه هم تر ډېره حده د متن په داخلي شهادتونو اړه ده، خو د دغو ښېګڼو سره سره په دې ديوان کښې ځينې داسې نکات شته چې د تدوين د موازينو له مخې محلِ نظر دي:

- د متن د کتنې څخه داسې برېښي چې ځينو برخو ته ئې په دقت سره توجه نۀ ده شوې، ځکه نو په متن کښې داسې ناموزونه کلام ځاے موندلے دے، چې په ضميمه کښې ئې راوړل پکار وو- د مثال په توګه د متن د "ظ" پټۍ کښې چې کوم غزل راغلے دے، قوافي نۀ لري- غزل دا دے:

تل کوي راته د شهر واعظ وعظ
ولې نۀ لګي په ما د واعظ وعظ
معلومېږي چې په عشق خبر نۀ دے
ځکه ما ته کړي دا هومره واعظ وعظ
که تا ويني په سترګو هاله مرد دے
که له دله نۀ شي هېر د واعظ وعظ
هغه څوک چې په جذبه د عشق مجذوب شي
پرِ اثر نۀ که هر ګز د واعظ وعظ

که دا هسې کړي چې وائي دے نور چاته
په هر چا به لګېدۀ د واعظ وعظ
د واعظ وعظ پکار دے و دانا ته
دے مجنون ته څۀ پکار د واعظ وعظ
زۀ کامګار مګر مجنون د زمانې شوم
چې مې کار نکړه په زړۀ د واعظ وعظ[1, p87]

په ۱۹۹۵ء کښې چې د دې ديوان کوم ايډيشن نشر شوے دے او سيد تقويم الحق کاکاخېل پرې دوباره نظر هم کړے دے، مذکوره غزل پکښې په هم دغه شکل راغلے دے-

- په کليدِ افغاني کښې د کامګار خټک درې غزلې راغلې دي - [2, 377, pp363-364, 392-394] پکار وه چې د متن متعلقه غزلې ورسره موازنه کړے شوے وے- د کليدِ افغاني په دغو درېو غزلو کښې ځينې بېتونه داسې شته دے، چې د ديوان متعلقه غزلو کښې نشته دے- د مثال په توګه دا لاندې درج شوې شعر:

ازادي مې خوښه نه شوه له دې پسه
زما پښو لره زنځير د عشق حمات را[2, p64]

دا شعر د کليدِ افغاني په ۳٦٤ مخ، د ``الف" د پټې د هغه غزل دوېم شعر دے - چې دا مطلع لري: ساقي زر پاځه و ما آبِ حيات را + ورپسې نُقل د سرو شونډو نبات را- د ``الف" د پټې دا ذکر شوے غزل د ديوان په ٤٢ مخ راغلے دے، خو دغه پاسنے درج شوے شعر پکښې نشته-

که ستا مخ يو ځل ووينې په سترګو
بت پرست به نور سجود دوثن پرېږدي
په خاطر به مې بې غمه قراري شي

که مې سترګې د خوبانو ديدن پرېږدي
که دې وليدې سرې شونډې جوهريانو

په یاقوت پسې به تلهٔ د یمن پرېږدي
که دلبر په دا ښائست لاړ شي چمن ته
د خوبۍ دعوې به ګل د چمن پرېږدي
د قیامت په شور و شر کښې ګمان مهٔ کړه
چې کامګار به دې له لاسه دامن پرېږدي[2, pp393-394]

دغه لوړ درج شوي پنځه بېتونه د کلیدِ افغاني په ۳۹۳ او ۳۹۴ مخونو د ``ی" د پټۍ په یو غزل کښې راغلي دي چې مطلع ئې دا ده:

نهٔ به څوک له ناچارییه وطن پرېږدي
نه به روح هرګز په خوښه بدن پرېږدي

مذکوره غزل د دیوان په ۱۷۳ او ۱۷۴ مخونو راغلے دے چې دغه اندراج شوي بېتونه پکښې نهٔ لیدے کېږي- سربېره د دغو درېو ذکر شوؤ غزلو هغه بېتونه چې په دیوان او کلیدِ افغاني دواړو کښې راغلي دي ځینې مصرعې یا د هغو ځینې برخې هم د یو بل سره توپیر لري-

د ۱۹۹۵ء ایډیشن هم د دغو کمبوتو نو ښکار دے-

- په مقدمه کښې د مدون وینا ده چې: "اوربدلي مې دي چې د کامګار خان دیوان اوس اوس د کابل ادبي ټولنې چاپ کړے دے- ماته د هغې نسخه په لاس رانغله ـ"[1, p1] خو په کابل کښې د کامګار خټک دیوان په ۱۳۵۸هـ ش/۱۹۷۹ء کښې چاپ شوے دے یعني پوره شپږ کاله وړاندې-
- د دیوان د متن په هر مخ چې د کامګار د کلام کوم تشریحات په حاشیو کښې ورکړې شوي هغو له پاره د متن په ځینو مخونو کښې د حوالې نومرې نهٔ دي ورکړې شوي د مثال په توګه دغه مخونه ملاحظه کړئ: ۹، ۱۱، ۱۲، ۱۳، ۴۳، ۱۶۷ او ځینې نور-
- د کامګار خټک د دې اولني چاپ، کوم دوېم ایډیشن چې یونیورسټي بک اېجنسي پېښور خپور کړے دے، د پروف غلطۍ پکښې خورا ډېرې دي، ښکاري چې پروف ئې په دقت سره نهٔ دے شوے- دا ایډیشن څهٔ نوې اضافه نهٔ لري، خو کتابت ئې سردوباره شوے دے، البته د ۱۹۹۵ء ایډیشن ئې اضافي ضرور لري چې په پېل کښې ئې د محمد نواز طائر "پېش لفظ" اوپرې پسې د سید تقویم الحق کاکاخېل مقدمه (ثانیه) اضافه شوې ده او

بیا په متن کښې ئې ځینې بېتونه زیات شوي دي- دغسې په دغه ایډیشن کښې د ځینو نیمګړو بېتونو متن هم بشپړ کړے شوے او په اخر کښې نوے فرهنګ او تشریحات (د ۲٦۷ مخ نه تر ۳۳۱ مخه) ورسره هم ملحق کړې شوي دي- د دې ایډیشن په مقدمه کښې د وړومبي ایډیشن د مقدمې د ځینو تېروتنو تصحیح شوې ده چې پکښې د کامګار خټک د زېږدنې نېټه په خصوصي توګه د ذکر وړ ده- خو په دې ایډیشن کښې هم ځینې داسې کموتونه تر سترګو کېږي چې معاصره متن څېړنه ئې اجازت نهٔ ورکوي-

- د کامګار خټک د دیوان د وړومبي ایډیشن په متن کښې نهه رباعیانې (د ۱۹۱ مخ نه تر ۱۹۳ پورې) درج دي- خو په دې زېرِ بحث ایډیشن کښې د رباعیاتو تعداد پینځهٔ دے، چې دا لاندې درج شوې څلور رباعیانې ترې حذف کړې شوي دي-

مخ دې د مهر غوندې ځلېږي
یا لکه شمع هسې بلېږي
د کامګار زړهٔ شهٔ لکه موم ویلے
اوښکې ئې ځکه دا رنګ بهېږي

مکړه په څهٔ کړے هجره خونخواره
چې دے جدا کړه کامګار له یاره
یو ځل مې بیا کړه له یاره وصل
که نه وي مرمه د رب دپاره

چې یار سفر ته په سمند سور شهٔ
زما په زړهٔ کښې د غم بل اور شهٔ
زړهٔ مې ئې یوړهٔ له اندرونه
صورت بې دله پاتې تش تور شهٔ

اے چې دے اسم ظلوم جهول دے

عجائب بار دې په شا محمول دے
که بار دے یوړو تر ځایه مرد ئې
که نه وي درومه بخره د نول دے

- د دې ایډیشن نه وړاندې په ۱۳۵۸ھ ش کښې چې د کامګار خټک د دیوان کوم ایډیشن په کابل کښې چاپ شوے دے نو د دې ایډیشن مقدمه ئې نۀ یواځې د ذکر نه خالي ده، بلکې په هغې کښې چې له نورو نسخو څخه کوم کلام اضافه شوے دے- هغه هم په دې ایډیشن کښې نۀ دے رانقل شوے- دلته دې دا خبره یاده وي چې د کابل ایډیشن د ۱۶۶ بېتونو اضافه لري ځکه نو د متن څېړنې د روشونو له مخې ورسره د دې زېرِبحث ایډیشن پرتله لازم وه-
- په مقدمه ثانیه کښې سید تقویم الحق کاکاخېل د دې زېرِ بحث ایډیشن په باب وئیلي دي-

"د دې اشاعت بنیادي نسخه هم هغه ده کومه چه هغۀ په ٤ ذي الحجه ۱۳۷۲ھ اشاعت ته تیاره کړې وه- دا نسخه هغۀ د دهوبیانو د یو مشر سره موندلې وه- او دهوبیان هغه کلے دے چه کامګار خان پکښې د عمر زیاته حصّه تېره کړې وه- نسخه کافي زړه وه- حاشیې ئې خوړلې شوې وې- او ځاے په ځاے ئې د کرښو سرونه هم ژېدلي وو- تر هغه وخته د بلې څۀ نسخې اثار نۀ وو معلوم چې دا ورسره مقابله کړے شي- مجبوراً هغه شلېدلې حصې دغسې نیم ګړې پاتې شوې- ډېره روستو دا معلومه شوه چه د لندن په انډیا افس کښې د دیوان کامګار خان یوه نسخه شته او پښتو اکېډیمۍ د هغې مایکرو فلم رااوغوښتو- دا نسخه غلام جیلاني پشاوري د پادري هیوز د پاره په ٦ جمادي الثانیه ۱۱۸۶ھ نوشته کړې ده او رسم الخط ئې د غلام جیلاني دے- د صحت او ضخامت دواړو په لحاظ سره د سید تسنیم الحق کاکا خېل نسخه د غلام جیلاني د نسخې نه بهتره ده- دا نسخه محمد سعید په ذي الحجه ۱۱۹۱ھ کښې لیکلې ده- تاریخ ترې هېر شوے دے خو ورځ ئې د پنج شنبې ښئیلې ده- نو دا ۲-۹-۱۶ یا ۲۳ کیدے شي-یعني د کامګار خان د وفات نه صرف شپږ ویشت کاله پس- د غلام جیلاني په نسخه کښې د (ح) په قافیه کښې صرف یو غزل زیاتي دے- البته د زړې نسخې شپږ ورکې پاڼې ما د غلام جیلاني د نسخې نه رانقل کړې او د متن سر ورکي اشعار مې هم د دې په مدد پوره کړل - په هر لحاظ د سید تسنیم الحق کاکا خېل نسخه بهتره وه او هم هغه مې اوساتله"[3, pp15-16]

خو د تدوین د روښونو له مخې زیرِ بحث ټول متن د مذکوره مائکرو فلم نسخې سره پرتله کول پکار وو چې نسخه بدلې ئې په حاشیو کښې درج شوې وې- د ``ح" په قافیه چې د کوم غزل یادؤنه میاں صاحب کړې ده، باید رانقل شوے وے -

## 2 د کامګار خټک دیوان د عبدالمتین متین په تدوین

د کامګار خټک د دې دیوان متن چې د کومو قلمي او چاپي نسخو له مخې ترتیب شوے دے، هغه دا دي: د اطلاعاتو او کلتور وزارت د ملي ارشیف نسخه، د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځی مائکروفلم (دا مائکروفلم د کامګار د دیوان د هغې خطي نسخې دے چې د لندن په برټش میوزیم کښې ساتلې کیږي)، د پېښور چاپ دیوان او کلیدِ افغاني او نور اووه ضمني منابع-[4]

د دې دیوان په ابتدائي دوؤ مخونو (ا، ب) د صدیق روهي یادښت راغلے دے، چې د دیوان د ترتیب، تدوین او تهذیب په باب دے - دې پسې د مدون سریزه راغلې ده چې په شلو مخونو خوره ده- سریزې پسې په ``ضروري یادؤنه" کښې د نسخو مخففات ښودلے شوي دي - او پرې پسې متن پېل شوے دے چې په ۱۸۹ مخونو خور دے - بیا فرهنګ (د ۱۹۱ مخ نه تر ۲۰۱ مخه پورې) او اخري څلور مخه سمون لیک ته وقف دي-

د دې دیوان د سریزې هغه برخه چې د کامګار ژوند لیک ته وقف ده- څۀ داسې نوي معلومات پکښې نۀ دي راغلي، چې د کامګار په سوانحي کوائفو کښې د اضافې باعث شي- معلومات ئې نزدې نزدې هغه دي، چې د تسنیم الحق کاکاخېل د مرتب دیوان په مقدمه کښې راغلي دي - د کامګار د شاعرۍ په باب بحث ئې هم عمومي دے، چې صدیق روهي ورته په خپلو ابتدائي خبرو کښې اشاره هم کړې ده- د سریزې په کومه برخه کښې چې د متن د نسخو معرفي راغلې ده، ځینې نیمګړتیاوې لري- د مثال په توګه د اطلاعاتو او کلتور وزارت د قلمي نسخې د کاغذ، مسطر او قطعې (سائز) په باب هېڅ نۀ دي وئیلي شوي- دغسې د سریزې مندرجات د متن د تصحیح او ترتیب د روش په باب هم چُپ دي او بله دا چې د کامګار خټک هغه غزل چې د دیوان په وړومبي ایډیشن کښې بې قافیو راغلے دے، د زیرِبحث متن په ۵۰مخ هم هغه شان راوړے شوے دے - پکار وه چې مدون ورته متوجه شوے وے او ضمیمه کښې ئې ورکړے وے خو سره ددې د زیرِبحث ایډیشن له دې اهمیت څخه انکار نۀ شي کېدلے، چې متن ئې د څو نسخو (وړاندې ئې ذکر وشو) له مخې تهیه کړے شوے دے، د نسخه بدلو له پاره د حاشیو اهتمام هم لري، او د کامګار د دیوان د وړومبي ایډیشن په پرتله ۱۶۶ [5] بېتونه پکښې هم اضافه شوي دي- چې تفصیل ئې داسې دے- نهه پښتو غزلې، دوه مخمسه، یو فارسي غزل، یوولس فارسي شعرونه او څلور پښتو رباعیات-

## 3 د کامګار خان خټک کليات د ميا وکيل شاه فقير خېل په تدوين

په دې کليات کښې د کامګار خټک د ديوان او شرح عقايد متون راغلي دي ـ د ديوان متن د چاپي نسخو له مخې تهيه شوے دے ـ شرح عقايد چې د مثنوی بنه لري، د کامګار خټک بل تصنيف دے ـ دغه متن د کامګار خټک په کليات کښې په لومړي ځل وړاندې کېږي، چې د نسخې د بازيافت سهره ئې د مدون په سر ده ـ د دې کليات د ترتيب او تدوين په حقله د مدون وېنا ده:

" چې هر کله ما د کامګار خان خټک د (شرح عقايد) په نوم منظومه قلمي نسخه ومونده او په دغه خطي نسخه مې په تفصيل سره اوږد بحث او څېړنه وکړه نو ما دا وغښتل چې زۀ د ديوانونو درېواړو چاپي نسخو باندې ځېرنيز نظر واچوم او چې په شعرونو کښې ددې ديوانونو تر منځه کوم کمی زياتی په نظر راځي، هغه صحي کړم او بيا ورسره دا نوي مونډل شوي کتاب (شرح عقايد) شامل کړم او (د کامګار خان خټک کليات) په نوم ترتيب او تدوين کړم، تحقيقي مقدمه پرې اوليکم او چاپ شي ـ نو په پښتو ادب کښې به يوه نوې او لويه اضافه وي او د علم و ادب پوهانو او محققينو دپاره به د څېړنې نوې لارې پرانېزي او د پښتو ادب په تاريخ کښې به محفوظ پاتې شي ـ"[6, p3]

ددې کليات په لومړي مخ د خپرندويه ټولنې يادښت راغلے دے او ورپسې د مدون مقدمه (۱مخ نه ۶۶ مخه پورې) راغلې ده، چې پکښې د کامګار خټک په ژوند او فن په زړۀ پورې مباحث موجود دي او د ديوان د چاپي او قلمي نسخو تعارف هم پکښې ورکړے شوې دے ـ مقدمې پسې د کليات متن مندرج دے چې پکښې د ديوان متن يو سل اويا (۶۷مخ نه تر ۲۸۱ پورې) مخونه او د شرح عقايد متن يو سل څلوېښت (۲۸۲مخ نه تر ۴۰۶ پورې) مخونه نيولې دي ـ د پائے يويشت (۴۰۷مخ نه تر ۴۲۸ پورې) مخونه فرهنګ دپاره وقف دي، چې پکښې د متن ګران لغتونه او ترکيبونه سپړل شوي دي ـ

د کليات مقدمه کښې د کامګار خټک د زوکړے، ځاے ځائګي او مړينې په باب ځينې نکتې او د هغه د شاعرۍ ځينې فني او فکري خواوې په اول ځل رامخې ته شوې دي، خو څۀ به ښۀ وه چې د کليات مقدمه کښې د څېړنې ميتهود هم اندراج شوې وې ـ دغسې د شرح عقايد د خطي نسخې د تعارف په لړ کښې د نسخې متني مواقف او معارض ښوؤل شوي وے ـ د ديوان د متن د تهيې په وخت د پښتو اکېډمی مائکرو فلم نسخې (ديوانِ کامګار خټک) ته رجوع شوې وے او تهيه شوے متن ورسره کتلے شوے وے او توپيري برخې ئې په ګوته کړې شوې وے ـ د انتقادي متن د تهيې په وخت د هغه ټولو نسخه بدلو ښوؤلو اهتمام د متن په حاشيو کښې شوے وے، کوم چې په متن کښې استفاده شوؤ نسخو درلودل ـ خو د دې بيان شوؤ کموتونو باوجود هم، د کامګار خان خټک دا زبرِ بحث کليات زښت ارزښت لري چې په لومړي ځل د کامګار خټک د يو بل مهم اثر ``شرح عقايد" متن وړاندې کوي او د پښتو متن څېړنې د روايت برخه ئې

کړځوي -
اوس چې د کامګار خټک د دیوان دغه ذکر شوي ایډیشنې په خپلو کښې پرتله کوؤ، نو باید ووایو چې د تسنیم الحق کاکاخېل ایډیشن په دېو حوالو د اهمیت وړدے - دغه دیوان په اول ځل مونږ ته د کامګار د دیوان زیاته برخه وړاندې کوي، په مقدمه کښې ئې د کامګار د ژوند او فن په حقله مفصل بحثونه کړي، په تشریحاتو کښې ئې د کلام ناسپړلي نکات سپړلي او د کابل چاپ دیوان کښې ترېنه استفادې شوې - د کابل چاپ ایډیشن په دې سوَب ممتاز دے، چې ګڼې نسخې پکښې استفاده شوې دي، نسخه بدلې پکښې ښوولې شوې دي او اضافي کلام پکښې راغلے دے - د نسخه بدل متن خپل اهمیت وي، چې معاصره متن څېړنه ئې غوښتنه او تقاضه کوي - د پښتو اکېډمۍ چاپ دیوان کښې ځینې نیمګړي شعرونه د اکېډمۍ د مائکرو فلم نسخې څخه بشپړ کړے شوي دي او دغسې د مذکوره مائکرو فلم نه هغه شپږ پاڼې هم رانقل کړے شوې دي، کومې چې د وړومبي ایډیشن د خطي نسخې نه ورکې وې، خو لکه څۀ رنګه چې په لوړ بحث کښې پرې خبرې شوې دي، چې دې ایډیشن کښې د وړومبي ایډیشن څلور رباعیانې نۀ دي راغلې او نۀ د دې متن د کابل چاپ متن سره پرتله شوے دے له دې امله نیمګړتیاوې ئې ښکاره دي - د کامګار خان خټک کلیات مقدمه کښې د کامګار د ژوند او فن په باب، ځینې نوې نکتې رامخې ته شوې دي - په لومړي ځل ددغه کلیات په وساطت مونږ ته د شرح عقاید بشپړ متن رارسېدلے دے - خو د دیوان متن کښې د چاپي نسخو د نسخه بدلو ښوؤلو اهتمام په بشپړه توګه نۀ تر سترګو کېږي - نۀ د متن د تهیې میتهود په مقدمه کښې واضح کړے شوے دے او نۀ د پښتو اکېډمۍ د هغه مائکرو فلم نه پکښې استفاده شوې ده، کوم چې په انډیا 'افس لائبریرۍ کښې موجود د کامګار خټک د دیوان نسخه تیار کړے شوے دے -
د کامګار خټک د دیوان د ټولو چاپي ایډیشنو د متونو د مطالعې څخه دا حقیقت څرګندېږي، چې دغه ټول په څۀ نه څۀ حواله نیمګړي دي - وړومبے ایډیشن د یوې نیمګړې نسخې له مخې تیار کړے شوے دے، د ۱۹۹۵ء ایډیشن کښې د کابل چاپ ایډیشن اضافه شوے کلام نشته - دغسې په ټولو ایډیشنو کښې ناموزونه کلام هم ځاے موندلے دے، چې یو مثال ئې په لوړ بحث کښې وړاندې کړے شو او بله دا چې په ټولو ایډیشنو کښې د متن د ترتیب او تصحیح د روش وضاحت هم نۀ دے شوے - په دغو حوالو وئیلے شو، چې د پښتو متن څېړنې په روایت کښې لا تر اوسه د کامګار خټک د دیوان یو باوري او انتقادي متن تهیې او نشر ته ضرورت لیدے شي- لازم ده چې د ټولو دستیابو چاپي او خطي نسخو له مخې ئې یو باوري او انتقادي متن تیار کړے شي او د متن څېړنې د شرائطو سره سمه مقدمې پرې ولیکلے شي او د حاشیو، فرهنګ، تعلیقاتو او نورو ضروري تدویني لوازمو سره سم چاپ او نشر شي -

# Bibliography

[1] Tasnim ul Haq Kakakhel, Deewan-e-Kamgar Khan Khattak, Maktaba Sarhad, Peshawar

[2] Hews, Kalid e Afghani, Muqadama Abdullah Khedmatgar, Da Itla'ato ao Kultoor Wazarat, Kabul, 1356H/1977

[3] Tasnim ul Haq Kakakhel, Deewan-e-Kamgar Khan Khattak, Muqeama Sania, Maktaba Sarhad, Peshawar, 1995

[4] Abdul Matin Matin, Muqadma Da Kamgar Khattak Deewan, Da Academy of Sciences Afghanistan, Kabul, 1358H

[5] Muhammad Sadiq Rohi, Masmoola Da Kamgar Khan Khattak Deewan (B)

[6] Wakil Shah Faqeer Khel, Muqadema Da Kamgar Khan Khattak Kulyat, Danish Khprandoya Tolana, Kabul, 1393H/2015